پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۶/۲۸

# لنډۍ او د لنډيو د ښتولو ستونزه

## یو دیرشمه برخه

باد د کابل له لوري راغی
په چا به خنګه، په ما خوږ ولږیدنه

چې دوه خیرن سره یو ځای شي
په مازدیګر کې د صابون صفت کوینه

په همدې نږدې وختونو کې په کابل کې له لطیف لالا (ډوکتور لطیف بهاند) سره په یوه بنډار کې ناست وم چې د نورو خبرو تر څنګه یې د لنډۍ په باب و ویل:

«د نړۍ تر ټولو بې جوړې شعر؛ لنډۍ ده ...»

دا جمله ما سمدلاسه ولیکله او دا دی اوس مې د لنډیو د مقالو په دې برخه کې خوندي کړه.

دغه راز مې چیرې د ښاغلي مجید قرار په کومه لیکنه کې د لنډیو په باب دا جمله ولیدله، کاپي مې کړه او دا دی اوس یې دلته خوندي کوم:

«زموږ فلکلور چې ټپه لري، نوره یې څه خواري ده.»

د لنډیو د مقالو سلسله (لنډۍ او د لنډیو د ښتولو ستونزه) د نویو موادو د نشتوالي په وجه او یا د نورو علمي کارونو د زیاتوالي په دلیل او یا په ورځني ژوند کې د ډیرې بوختیا په وجه، دا ډیره موده همداسې پاتې وه، خو زما دا لړۍ هیره نه وه، هر کله به مې چې د میډیا په بیلابیلو برخو کې کومه داسې لنډۍ ولیده چې ما ته به بیخي نوې ښکاره شوه، یا به نسبي نوې وه او یا به د پیښو او ځینو مناسبتونو په وجه برابره وه او یا به زما خپله خوښه شوه، نو په ځانګړې پاڼې کې به مې یاد داشت کړه.

دا دی هماغه یاد داشت کړې او خوندي کړې لنډۍ، د لنډیو د مقالو(لنډۍ او د لنډیو د ښتولو ستونزه) په یو دیرشمه (۳۱) برخه کې د درنو لوستونکو او د لنډیو مینه والو حضور ته وړاندې کوم، یو به مې ښایي کومه نوې لنډۍ خوندي کړې وي او بل دا چې د لوستونکو پام به دې ته را واړوم چې زما د لنډیو د مقالو کار نه دی هیر او کار مې د نویو لنډیو د ټولولو په برخه کې روان دی.

دا هم ځو نوې یا څه نا څه نوې لنډۍ چې ستاسو مبارک حضور ته یې وړاندې کوم:

**جانان په هیڅ نه رضا کیږي**
**د دروغجن ملا دې ورک شي تعویذونه**

**چې وعده وکړي پوره یې نکړي**
**ژبه دې پرې شي چې وعدې پرې نه کوینه**

**ستا د دیدن ماښام ته ناست یم**
**زما روژه به تر قیامته پورې وینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

روژه د صبر مې نيولې
د يار ديدن ته د عمرونو تږې يمه

د پېشړمي غږونه وشول
له نرۍ ملا نه مې را وباسه لاسونه

آخر به ما په چا حلال کړې
چې په دېوال ښکاره کوې سپين مړوندونه

پر هغولارو کې مورچې دي
چې پرې راتلل به د کوچيانو کتارونه

باد د کابل له لوري راغی
په چا به څنګه، په ما خوږ ولږيدنه

بې اوداسه مه راته وايه
ما د زړګي په وينو کړي اودسونه

په بل وطن مې پيدا نه کړې
د نارنج ګله ننګرهار ته به درځمه

په بل وطن مې پيدا نه کړې
د زړه مرهمه کابل جان ته به درځمه

خبرې لنډې، لنډې وايه
د لارې سر دی څوک به ځي څوک به راځينه

د غم په ورځ مې دوست ونه ليد
چې خوشالي شي تر مچانو ډېر راځينه

نيکريزې تاسو پر لاس کيږدئ
زما د خپل ورور په وينو سره دي غبرګ لاسونه

غيرت دې ښه راته معلوم دی
په جهادي بريتو دې مه وهه لاسونه

څنګه خواږه، خواږه را ګورې
لمن دې ونيسه چې زړه در واچومه

غيرت دي ښه راته معلوم ده
په رواجي بريتو دي مه وهه لاسونه

په ويښه يو ځلې رانغلې
په خوب کې نښې راليږې چې در به سمه

کډه يې وکړه را نه لاړه
زما نا دانه زړګی مېنې لټوينه

که د شودو لښتی پرې سپور کړې
زهر اخيستی باغ به و نه کړي ګلونه

بيا پسرلی شو ونې شنې شوې
زما ميراته سينه نه سپېرې ګلونه

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**د چا دادا به ور ته ټينګ شي**
**پر ګلابي شونډو د ژبې سر وهينه**

**يو کال به بل وطن ته لاړ شم**
**چې د ځوانۍ دور دې تير شو را به شمه**

**غمونه مه کوه جانانه**
**غمونه وينه وچوي، رنګ زيړوينه**

**ګوره چې بيا خندا ونکړې**
**د زړه زخمونه مې پرون ګنډلې دېنه**

**چې دوه خيرن سره يو ځای شي**
**په مازديګر کې د صابون صفت کوينه**

د يو ديرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ